مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۲/۰۱/۱۲

# حــیــران

ستا د سرزورۍ خبرې، چا سره شریکې کړم
ځان د مجبورۍ خبرې، چا سره شریکی کړم

ته خودغرور په نیلی، سپوریي څمکه نه وینې
زه د ناچارۍ خبرې، چاسره شریکې کړم

تانه چې را پیښه زما کورته دا خواري شوله
اوس د دی خوارۍ خبرې، چا سره شریکې کړم

زه په کار اخته وم تامی سترګې لاس را وتړل
دا د بیکارۍ خبرې، چاسره شریکې کړم

ورک دی له وطن کړم د پردی کلی ګدا دي کړم
سختي د زارۍ خبرې، چا سره شریکی کړم

دومره دی مجبورکړم چې مزدوردی د مزدورکړمه
دا د مزدورۍ خبرې، چا سره شریکی کړم

ربه زما ربه ګیله نکړم چې خپه نه شی
دا د نادارۍ خبرې، چا سره شریکي کړم

ګیرمی کلیوال دي په جوارۍ کی د سیاست او دین
زه د دي جوارۍ خبرې، چا سره شریکې کړم؟...

دسمبر/۱۱/۲۰۲۱
تورنتو - کانادا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ